**عبدالغفور لېوال**

# زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم،

چې هرسهار به یې نرگس

د اوداسه په نیت شبنم نه ډکه لپه مخ ته وشیندله

او ورپسې به وو کتار کشمالي

ولاړ د مینې او رڼا په لمانځه.

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

چې هسکو غرونو یې د ورېځو له لمنو سره غاړه وړله

او د شپنو له یاکوربان سره یې مسته شرشره د اوبو

لکه په سپین گېډۍ کمیس کې ناوې اوښته را اوښتله

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

***

زه مې هغه افغانستان غواړمه،

چې تناره کې یې د سپینو پاستو عطرو ته سهار مست و

لکه سپوږمۍ چې د شفق د سرو سکرټو په بام څل ووهي

زما وطن،

چې د غرمې د نغري شین لوگی یې

د بر جومات د ماسپښین له خوږ اذان سره همزولی راته

او د سیند شور ته یې چنار کې د مرغیو چهچهې

د غرِ او شور میناتوري ایستله

هغه وطن چې د ادې د زوړ ټیکري د پلو بوی یې درلود

او کلکه خاوره به یې مسته شوه

او نرمه به شوه،

د پلار له

څاڅکي

څاڅکي

څاڅکي خولو

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم.

***

زه مې هغه افغان‌وطن غواړمه،

چې د لرغونو مرکو- جرګو اروا یې ان تر نن پورې قانون جوړوي

داسې قانون، چې لکه مست هېلمند د دښتو په رګونو کې څپې وهي لا

داسې تړون، چې د یاغي کوکچه په ژبه

د کوشان د نیاو مزدک ته د پامیر له زړه سلام راوړي

د عشق پیغام راوړي.

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

چې د پلازمېنې له باغونو یې وږمې د ګلابونو، ارغوانو، نسترنو او زنبقو بنارس ته تللې

او د ورېښمو کاروان هره ورځ په سل اوښانو

د بلخ حِکمت او د باګرام افسانه

د کاسي‌غر په تړو وږله تر خُتنه پورې

«سوله» یو نوم و د کابل د سرو مڼو د عطرو

«دیموکراسي» یې یو دیوال و

پرې کتار وو کتابونه دریابونه

او ترڅنګ یې پوهنتون ته تمځای.

د اسمایي لمن کې جوړ یو داسې ښار،

چې هره پرښه یې ژوندۍ وه په نغمو د «قاسم» :

«گر نداني غیرت افغاني ام

چون به میدان آمدي میداني‌ام»

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم.

***

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

چې تاسو راغلئ،

موږه ډول سره اتڼ کولو

دلته یې هر حشر ته ډول وهلو

د غزا چیغه هم په ډول او په اتڼ وتله

او دغو خلکو به له تورو سره ځنې هم په شړک تاوې کړې

دا وطن ډول سره همداسې په اتڼ تاوېده

چې تاسو راغلئ

او

بیا بیا مو تر پښو لاندې کړ،

خو دی ولاړ پاتې شو

هغه وطن، چې د «زرينې مرغۍ» سرو ښکاريانو

په کې مورچل جوړ کړ

خو دی ولاړ پاتې شو

هغه وطن چې د پلازمېنې پر هر غره يې غځېدلي ښاماران د تاريخ

له «کاسه برج» څخه د اور پر ليکه چيغه وهي:

آزادي-

آآآزاااادي ي ي !

ورشئ، د «دوه تورو» پاچا وپوښتئ

هو!

دی ولاړ پاتې شو

بالاحصار يې د کسات په سرو لمبو کې تاسو ولمباوه

خو له شېرپور تر جگدلک پورې

لمرڅرک سره راوتيو جنگياليو ستاسو سيوري ورک کړل

دی لا ولاړ و

او له مټو يې د وينو نرۍ ليکو فوارې وهلې

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم.

چې د تاريخ هريو توپان،

هريو سيلاو،

هرې سېلۍ ته لا ولاړدی

ولاړ!

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم.

زه مې هغه افغانستان غواړمه

چې په کې هرڅه وطني وو، وطني – افغاني

خمتا،

څپلی،

گڼ کميسونه،

چورمه داره واسکټ

د زرزري گلاباتون رخچينې،

خامکي غاړي او گيبي گيبي پايڅې پرې څونډې

قُرصې پنې او له مزرو نه اوبدلې خولۍ

هغه وطن چې خپل سوکړک يې وو او خپلې مستې

فکرونه هم ټول وطني وو او خبرې يې هم

پردي سرونه به له ورايه بېگانه ښکارېدل

هغه وطن چې دهگانانو يې له خپلو اوبو

په خپله خاوره کې

نغمې کرلې.

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

«پښتونستان» يوه کافي وه،

د شطرنج،

په کې کتار به وې سياسي تورې او سپينې مُهرې

او تروږمۍ کې به رڼا بهېده

چې به راغونډ ول چېرې ويښ زلميان په شور د وطن

د کندهار د ارغنداو له څپو مست ګرداو به

د روښانفکرو په مجلس تاوېده

په بلغمي پیالو کې چای د ستالفي چاینکو

او د ودانې چارچتې د قنادۍ پتاسې

هرڅه وطن و

او

هرڅه وطني

زه مې هغه افغانستان غواړمه

چې تاسو نه وئ او د تور سیوري تیاره مو نه وه

لکه د ځوان مېین زړګی د خپلې مینې په ګوګل درزېده

هغه وطن چې پېغلو نجونو به یې هرغنم‌لو وږي ټول کړل

او په یوې د سپینو زرو کابلۍ به یې ململ غوندې نازکه ټوټه

یو قوده سونډ او یو څو ستنې له بقال واخیستې

میاشت به لا نه وه، چې جانان ته به یې ورکړ دسمال

د دسمال کونج کې به سور ګل له شین ډنډر سره کوږ وږ انځور و

ترې خورېدې به د سنځلو د ګلونو وږمې

زه مې هغه افغانستان غواړمه،

چې مکتبۍ جینکۍ هرسهار په تور کمیس او سپین ټیکري کې

لکه مېینې توتکۍ

راتلې او زیری یې راوړ د سپرلي.

تاسو لا دلته نه وئ

موږ د وطن د هرې تيږې،

هرې پرښې

او

چينې په ژبه ښه پوهېدو

موږ مازيگر کې د گودر او د منگيو او د نجونو په کيسوکې خپل ځان ښه پېژانده

زموږ «فرهنگ» دومره «زموږ» و،

چې د مور له اللو سره به روح ته راته

زموږ «پېژاند» زموږ د ميندو له شيدو پيلېده

زموږ«پېژاند» زموږ د پټي غنم وو،

چې د غرور پروخت مو هسک لکه جوغه په خپل پټکي کې ټومبل

زموږ «پېژاند» د زابلي رستم له سوبې سره يو سمنگان مينه وه چې

د ستورو ځل ته به يې

له تهمينې نه خوله په خرپ اخيسته.

زموږ «پېژاند» د ادم خان رباب و،

چې مومن خان ته يې د ښکلې شيرينو په نامه

د ښامار سوبه ورکړه

چې تاسو نه وئ، موږه هرڅه لرل

هرڅه مو خپل وو

چې تاسو نه وئ،

زموږ د ژبې په قاموس کې د «کډوال» کليمه نه وه ليکل شوې په زور

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

زه مې هغه افغانستان غواړمه

یو چکۍ گوړه

لږه خپله مالگه

یو بوټی شین ویالنی

او بس یوه مړۍ غلمینه ډوډۍ

د خپل وطن د سردرو هغه زیږه،

ها ژوندبښونکې هوا

چې زه په زوره په کې چیغه وکړم:

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

او دوی یې بېرته کړي بیا بیا راغبرگه :

«زه مې هماغه وطن بېرته غواړم

زه مې هماغه وطن بېرته غواړم.»